DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

شمارهٔ: ۲۳

مونږ په هېواد کې ټولنیز عدالت او تل پاتې سوله غواړو

اووم کال - دویمه دوره، دروېشتمه گڼه، پر له پسې گڼه ۱۰۴۷ د ۱۳۸٦ هـ ش د تلې ١٤، د شنبې ورځ، د ١٤٢٨ هـ ق د رمضان المبارک ۲۴ — 06 October , 2007

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

عبد الرحیم وردگ وزیر دفاع :

حامیان خارجی طالبان افزایش یافته

ظرفیت پایین کاری در ارگانهای امنیتی دلیل عمدهٔ افزایش ناامنی ها در کشور است



بی بی سی – عبد الرحیم وردگ وزیر دفاع گفته است که جنگجویان مخالف دولت ، به تازه گی "حامیان بیشتری" در میان کشورهای خارجی یافته اند و بیشتر از گذشته تجهیز می شوند.

وردک، که در حضور نماینده گان پارلمان سخن می گفت افزود که تعداد اتباع خارجی که در کنار طالبان و علیه دولت افغانستان می جنگند نیز افزایش یافته است.

آقای وردک گفت: "دشمن حامیان بیشتری پیدا کرده و حالا بیشتر از گذشته تمویل می شود." ص۴

بی‌نظیر بوتو و پرویز مشرف دربارهٔ تقسیم قدرت به توافق رسیدند

فرانسپریس– خبرگزاری فرانسه از اسلام آباد گزارش داد که یک منبع نزدیک به رییس جمهوری پاکستان

به این خبرگزاری گفت:"بی نظیر بوتو" نخست وزیر اسبق پاکستان و "پرویز مشرف "رییس جمهوری کنونی این کشور شب گذشته برای آشتی ملی جهت تقسیم قدرت به توافق رسیدند .

این درحالی است که تلویزیون خصوصی "جیو" ساعتی پیش به نقل از بوتو رهبر حزب مردم پاکستان گفت که به جنرال پرویز مشرف در لباس نظامی به عنوان نامزد ریاست جمهوری رای نخواهیم داد .

بوتو که در لندن با خبرنگاران سخن می‌گفت، افزود: حزب مردم به توافق با دولت فعلی پاکستان نزدیک می‌شود .

پاکستان د سرې میاشتې افغان کارګوونکي ونېول

بینوا - د پاکستان ملېشو د افغاني سرې میاشتې درې تنه کارکوونکي هغه مهال ونېول چې له پولې ها خوا یې د طالبانو مړي لېږدول.

د پکتیا ولایت چارواکي وایي چې دغه طالبان اوه ورځې وړاندې په ګرده ځېړې کې دایتلافي ځواکونو په بمباریو کې وژل شوي وو. هغه مهال پولیسو ویلي وو چې په وژل شویو کسانو کې کېدای شي پاکستانیان هم شامل وي.

د پکتیا ولایت د والي ویاند دین محمد درویش وویل چې دغه کسان تېر مانبام د افغانستان او پاکستان په ګډه پوله د غلام خان په سیمه کې نیولي دي.

ښاغلي درویش زیاته کړه چې دغه دریو کسانو د هغه طالبانو مړي لېږدول چې څو ورځې وړاندې د ملي اردو او ائتلافي ځواکونو سره له جګړې وروسته په بمبار کې وژل شوي وو. د ده د مالوماتو له مخې په نوموړو دریو کسانو کې دوه تنه رضاکاروان او یو د نومورې اداري رسمي کارکوونکی و.

سولانا:

تهران تا پایان سال جاری تحریم می‌شود

اسوشیتدپرس – خاویرسولانا رییس سیاست خارجی اتحادیهٔ اروپا به ایران گفت که این اتحادیه خواستار مشاهدهٔ پیشرفت در مذاکرات بین‌المللی در زمینهٔ برنامهٔ هستوی ایران است، در غیر این صورت تهران تا پایان سال جاری میلادی با تحریم‌های جدیدی روبرو خواهد شد .

سولانا گفت: ما نمی توانیم تا ابد صبر کنیم و باید شاهد پیشرفت گفت‌وگوها و مذاکرات باشیم. خطر تحریم های بیشتر وجود دارد و این یک خطر واقعی است و باید این موضوع را تفهیم کنیم.

دولت په کندهارکې د (۲۰) طالبانو دوژلو ادعا کړې

غورځنګ - په کندهارکې د پولیسو مشر سیدآقا ثاقب د اسوشیتد پرس خبري آژانس ته ویلي دي چې پرون سهار افغان او ناټو ځواکونو دکندهار دشاه ولي کوټ په ولسوالي کې دګډو پوځي عملیاتو په ترڅ کې لږترلږه (۲۰) وسله وال طالبان وژلې دي.

دنومورې په وینا په دغو عملیاتو کې په دې سربیره چې افغان او ناټو ځواکونو ته د سرزیان نه دی اوښتی ،بلکې له وسله والو طالبانو څخه یې زیاته اندازه وسله هم ترلاسه کړې ده .

ثاقب ویلې چې د طالبانو له تېښتې وروسته د طالبانو (۱۷) مړي هم دجګړې په ډګر کې پاتې شوي دي. طالبانو تراوسه پورې د دولتي چارواکو ددغې ادعا په اړه رسنیو ته څه نه دي ویلې.

په کاپیسا کې درې پولیس وتښتول شول

وخت – د طالبانو له خوا د تګاب په ولسوالی کې ورمه ورځ درې تنه پولیس تښتول شوي. اوپه بله پېښه کې دامنیتي ځواکونو له خوا پرون سهار یو وسله وال طالب نیول شوی دی دغه پولیس دتګاب له ولسوالی څخه لا درکه شوي. دتګاب ولسوالي د امنیه قومندانۍ یوه کارکوونکي چې د نوم له اخېستلو یې ډډه وکړه له دغو پولیسانو څخه دیوه تښتونه تایید کړه.

دتګاب ولسوالی امنیه قوماندان سمونمل لال بازله وخت خبرپانې سره د خبرو پرمهال، پېښه تایید کړه خو دایې زیاته کړه چې دغه کسان پولیس نه بلکې د سیمې وسله وال کسان دي چې طالبانو له ځانه سره بېولي دي.

په یوه بله پېښه کې پرون پر دولس بجو دتګاب ولسوالی امنیه قومنداني مسوولینو دکفایت الله په نوم یو وسله وال طالب نیولی چې د سیمې یوه مشهور فراري طالب قوماندان قاري نجات سره نږدې خپلوي لري

جاپاني ډاکټرانو د سرطان ضد واکسین جوړ کړ

غورځنګ - دجاپاني ډاکټرانو یوې ډلې ویلي چې دوی داسې واکسین جوړ کړی چې د سرطان ناروغي پرضد په بدن کې کار کوي. د دغه هېواد د ملي تلویزیون د یوه خبر په اساس دغه واکسین د سرطان ناروغي په سلو کې ۶۰ ناروغانو باندې تر آزمېښت وروسته ښه اغېز درلودلی دی .

دغې ډلې د جاپان د اتو پوهنتونو نو په مرسته ۴۰ ډوله واکسین جوړ کړي دي او هغه یې د سرطان ناروغي په ۳۴ ناروغانو باندې آزمویلی دی چې په پایله کې په ډېرو ناروغانو کې د سرطاني غدو پرمختګ په سلو کې ۶۰ کم شوی دی .

دالومړی ځل دی چې په نړۍ کې د سرطان دناروغي ضد واکسین جوړېږي

یک سرباز انگلیسی در هلمند کشته شد

بی بی سی- یک سرباز انگلیسی در اثر انفجار یک بمب در جنوب افغانستان کشته و دو سرباز دیگر زخمی شده اند.

این انفجار روز پنجشنبه زمانی اتفاق افتاد که سربازان انگلیسی در حال بازگشت از میدان هوایی قندهار بودند. ص۴

دواړه لوري دبهرنیانو په اړه تصمیم نیولی شي

فیروزخیل

هره ټولنه یوه داسې نظام ته چې په خپل لاس یې جوړ کړی وي ، اړتیا لري یوه ټولنه د نظام له شتون او لرلو پرته د پرمختګ او هوساینې اسانتیاوې لرلای نه شي، داسې ټولنه به د ژوندانه په ټولو برخو کې له ستونزو سره لاس ګریوان وي ، ټولنیز، سیاسي او اقتصادي عدالت به نه وي او زورور به د کمزورو په حقونو تېری کوي. که چېرې ټولنه د خپلې خوښې نظام ولري نو هېڅ راز ستونزې به ونه لري ، د ټولنې هر وګړی به په نظام چلوني او ساتنه کې په خلاص لاس کار کوي . هر چا ته به دکار کولو اسانتیا وې برابرې وي او دخپلو ګډو ملي ګټو له پاره به په ګډه کار کوي ، دارنګه ټولنیز ، سیاسي او اقتصادي عدالت دټولنې ستونزو ته مثبت ځواب ویلای شي.

راځو په ټولنه کې د ادیب ټولنیز رسالت ته ، په نظام جوړونه او چلونه کې ادیب د ټولنې معمار دی ، په کوم (ډیزاین) یې چې جوړوي ، جوړولای یې شي. ادیب او لیکوال باید په خپله ستونزمنه خو له ویاړه ډکه دنده کې پدې برېالی شي چې ټولنه د وېښتیا ، رڼا او پوهې په خوا و خوځوي او تر سرمنزل پورې د ستړیا او مایوسی احساس ونه کړي. په خپل قلم او ژبه تور ته تور او سپین ته سپین ووایي، ظالم ته ظالم او مظلوم ته مظلوم ووایي، عادل واکمن ته عادل او جابر ته جابر وویلای شي.

۴ مخ

سر مقاله

د هېواد بحران ستر نړیوال اړخ لري

د ثور له تاغوتي کودتا څخه وروسته چې په هېواد کې دیکتاتوري نظام واکمن شو او وروسته بیا دې کودتا د شوروي یرغل ته زمینه برابره کړه او شوروي‌انو د افغانانو په عام وژنو سره په افغانستان باندې خپله ولکه ټینګول غوښتل، د افغانستان مسلمان ولس د دوی پرضد عمومي پاڅون او جهاد پیل کړ. شوروي‌انو او د دوی ګوډاګي نظام ډېر کوښښونه وکړل چې له مجاهد ولس سره رسماً خبرې پیل کړي خو مجاهدینو له روسانو سره هېڅ وخت په رسمي ډول خبرو ته کښېنناستل. د شوروي له ماتې څخه وروسته د ډاکټر نجیب دولت ډېر زیار ویوست چې له مجاهدینو سره نېغ په نېغه خبرې وکړي او د خبرو پر بنیاد خپل عمر اوږد او جنګ ته د پای ټکی کېدې خو مجاهدین تر اخر پورې د نجیب د دولت په وړاندې نه پخلا کېدونکی پاتې شول

د تنظیمي جنګونو په مهال هېڅ تنظیم تر پایه دې ته چمتو نشو چې په رسمي ډول له یو بل سره خبرې وکړي، تر زیاتې کچې ټولو تنظمونو خلك په جګړو کې وسوزول

اوس چې د هیواد د دیرش کلنې غمیزې په تاریخ کې د لومړي ځل له پاره د جنګ دواړو خواوو په رسمي ډول د جنګ د پای ته رسولو له پاره د خبرو اترو اعلان کړی، دا ډېر مهم او مثبت ګام دی. دا دې ټولو دنده ده چې له دې ګام څخه د هیواد د برخلیك په ټاکلوکې په بشپړ ډول سره ګټه وچت کړي

د لنډ مهالې اداري په راتګ سره دولت د طالبانو پرضد نه پخلا کېدونکې جګړه پیل کړه خو په بریالیتوب سره یې ونه شوای کولی چې دا جګړه مخکې بوځي. د دولت مخالفین د هرورځې په تېریدو سره ځواکمن شول خو کابو له دووکلنو را په دې خوا دولت له طالبانو سره د خبرو بیلابیلې لارې پرانیستلې

د ناټو غړیو هیوادونو په خانګړې ډول سره امریکا هم ډېر زیار وایست چې له طالبانو سره خبرو ته کینې او جګړه د خبرو پرښتې بنده کړي چې په پای کې بریالي شول او تر زباتې کچې خبرو ته سره کیناستل. دا ښه پیل وه او داسې

ویل کېږي چې تر زیاتې کچې د ناټو غړي هیوادونه، امریکا یان او طالبان په خبرو کې یو لړ بریاوو ته رسېدلي دي په دې هکله د دولت اصلي ستونزه داده

> که چېرې پورتنۍ معیارونه په پام کې ونه نیول شي نو جګړه به خپل نوی پراوته ورتنوزي او لا به زور واخلي، اوږده او پېچلې به شي او اصلي قربانیان به یې د افغانستان خلك وي او په جګړه کې به هغه ډلې ټپلې او نها دونه ورکېږي چې د خلکو ملاتړ له ځان سره نه لري.

چې په دې بریاوو کې په بشپړ ډول سره و نده نه لري.

ددې له پاره چې دا خبرې په بریالیتوب سره پای ته رسېدلې وی او ددې خبرو پرښتې په هېواد کې تل پاتې سوله او ملي واکمنې منځته راغلي وي نو پکار دي چې دا لاندې ټکي په بشپړ ډول په پام کې ونیول شي.

۱- د هېواد بحران ستر نړیوال اړخ لري د خبرو په اوږدو کې دې د افغانستان بحران د نړیوال او ملي اړخ ترمنځه په بشپړ ډول سره توازون په پام کې ونیول شي

۲- په دې خبرو کې دې د افغانستان د بحران د لا ښه حل له پاره د ملي ګټو پر بنسټ د سیمې د هیوادونو د سیاستونو په منځ کې توازون په پام کې ونیول شي.

۳- په هېواد کې دې د ملي معیارونو پر بنسټ د جګړې د دواړو خوا وو ګټې په هر اړخیزه ډول سره په پام کې ونیول شي او عمل دې پرې وشي.

که چېرې پورتنۍ معیارونه په پام کې ونه نیول شي نو جګړه به خپل نوی پراوته ورتنوزي او لا به زور واخلي، اوږده او پېچلې به شي او اصلي قربانیان به یې د افغانستان خلك وي او په جګړه کې به هغه ډلې ټپلې او نها دونه ورکېږي چې د خلکو ملاتړ له ځان سره نه لري.

> داسې ویل کېږي چې تر زیاتې کچې د ناټو غړي هیوادونه، امریکا یان او طالبان په خبرو کې یو لړ بریاوو ته رسېدلي دي په دې هکله د دولت اصلي ستونزه داده چې په دې بریاوو کې په بشپړ ډول سره و نده نه لري.

نظری به قانون اساسی

قسمت سوم

نویسنده: پوهندوی داکتر فاروق بشر

ازاینکه این فقرهٔ مادهٔ فوق الذکر قانون اساسی لوی څارنوال، رییس بانک مرکزی، رییس امنیت ملی و رییس سره میاشت را شامل حکو مت نه ساخته است، بنابر این، نمیتوان آنها را از جملهٔ اعضای حکومت شمرد فلهذا ولسی جرگه با ایشان همانند وزراء که اعضای حکومت هستند، معامله کرده نمی تواند، زیرا این اداره ها جزء کابینهٔ حکومت نیستند. در بخش حکومت خواهیم دید که قانون اساسی به ولسی جرگه تنها صلاحیت استیضاح و در نهایت سلب اعتماد یک وزیر را داده نه روسای سایراداره های مستقل حکومت را.

در مادهٔ هفتاد و یکم فصل چهارم قانون اساسی تحت عنوان حکومت، چنین آمده است.

" حکومت متشکل از وزراء ا ست که تحت ریاست رییس جمهور اجرای وظیفه می نمایند. تعداد وزراء ووظایف شان توسط قانون تنظیم می گردد."

طوریکه مادهٔ شصت و مادهٔ هفتاد و یک فقرهٔ (۱۱) قانون اساسی نشان میدهد، لوی څارنوال، و روسای مستقل جزء حکومت نبوده و روی همین دلیل در مجلس وزراء بحیث عضو حکومت اشتراک کرده نمیتوانند، ازاین بابت ولسی جرگه صلاحیت ندارد با آنها همانند یک وزیر معامله کند.

براساس حکم فقرهٔ دوم مادهٔ هفتادو هفت قانون اساسی " وزراء از وظایف مشخصهٔ خود نزد رییس جمهور و ولسی جرگه مسؤولیت گزارش دهی دارند." این ماده چنان معنی شده می تواند که لوی څارنوال و روسای مستقل از اینکه اعضای حکومت نیستند، نزد شورای ملی مسؤولیت نداشته و شورای ملی صلاحیت ندارد آنها را غرض استجواب، استیضاح یا سلب اعتماد احضار کند.

بیایید ببینیم که ولسی جرگه ازکدام وظایف و صلاحیت ها برخوردار است؟

آیا قانون اساسی برای ولسی جرگه صلاحیت داده تا لوی څارنوال یا روسای مستقل را غرض استجواب، استیضاح یا رأی عدم اعتماد به ولسی جرگه احضار کند؟ آیا ولسی جرگه صلاحیت دارد رییس کمیسیون مستقل حقوق بشر را تایید یا رد کند، یا خیر؟

در هیچ یک از مواد قانون اساسی بصورت واضح یا ضمنی به این موضوع اشاره نشده است تا ولسی جرگه از این صلاحیت استفاده کند. چون قانون اساسی در این مورد احکامی ندارد،بنابر آن ولسی جرگه مغایر احکام قانون اساسی صلاحیتی که برایش داده نشده باشد، برای خود داده نمی تواند زیرا این نوع کسب صلاحیت در مغایرت با حکم قانون اساسی قرار می گیرد.

به همین ترتیب اگر مادهٔ پنجاه و هشت قانون اساسی چنین حکم می کند که :" دولت به منظور نظارت به رعایت حقوق بشر در افغانستان و بهبود و حمایت از آن، کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان را تأسیس می نماید.

هر شخص می تواند در صورت نقض حقوق بشری خود، به این کمیسیون شکایت نماید.

کمیسیون می تواند موارد نقض حقوق بشری، افراد را به مراجع قانونی راجع سازد و در دفاع از حقوق آنها مساعدت نماید.

تشکیل و طرز فعالیت این کمیسیون توسط قانون تنظیم می گردد."

ادامه دارد

د دولت او طالبانو ترمنځ خبرې اترې او د دریځونو توان

هېمیم جلالزی

ولسمشر کرزي دتلې په ۸ مه، دملګرو ملتونو دعمومي غونډې څخه تر راستنېدلو وروسته په کابل کې یوې خبرې ناستې ته دوینا پر مهال وویل چې په هېواد کې دسولې او ټیکاو دټینګښت په موخه طالبانوته په واک کې ګډون ورکولو او له هغوی سره دخبرو اترو له پاره چمتو دی.

کرزي دا هم وویل چې په هېڅ ډول به بهر نیو ځواکونو ته اجازه ورنه کړي تر هغه مهاله پورې چې دده په وینا افغانستان ورته اړتیا لري له دې هېواد څخه ووزي چې په ښکاره دا دطالبانو دغوښتنې دردولو په ماناوه چې غواړي تر هغه به له افغان دولت سره خبرې ونه کړي چې څو پورې بهرني ځواکونه په هېواد کې وي.

طالبان له دولت سره دخبرو اترو دلومړي شرط په توګه په خپل دې دریځ باندې ټینګار کوي او دکرزي خبرو ته په وروستي غبرګون کې هم دطالبانو ویاند قاري یوسف احمدي رسنیو ته وویل چې لومړی باید بهرنیان له افغانستان څخه ووزي وروسته بیا دوی له دولت سره خبرو ته تیار دي.

ولسمشر په دې خبرې ناسته کې وویل چې له طالبانو سره له خبرو څخه او په دې اړه دولسمشر له دریځ څخه نړیواله ټولنه هم ملاتړ کوي

تر دې مخکې هم په افغانستان کې ناټو او ایتلاف ځواکونو په جلا جلا ډول دافغان دولت له دې دریځ څخه ملاتړ کړی او ویلي یې ووچې که طالبان له جګړې څخه لاس واخلي نو دوی ورسره کومه ستونزه نه لري، ددې ځواکونو موخه داوه چې ګواکې له افغان دولت سره که طالبان خپله ستونزه اواره کړي نو دوی هم ورسره هوکړه کوي

له بلې خوا دتلې په ۹مه، په کابل کې دملګرو ملتونو داستازي ویاند وویل چې که طالبان له افغان دولت سره خبرو ته تیار هم وي خو دیوشمېر هغه کسانو نومونه به چې دملګرو ملتونو دامنیت دشورا په تور لیست کې شامل دي له دې لیسته ونه ویستل شي

اډوارډز اسامه بن لادن او الظواهري هم دافغانستان له مسئلې سره وترل او په نړیواله کچه یې دامریکاا و دهغو ددوستانو په وړاندې ددې دواړه له دریځ څخه سترګې پټې کړې او دهغوی ټول کړه او له نړیوالو سره اختلافونه یې دافغانستان له مسئلې سره وترل

که څه هم تر اوسه پورې دافغانستان مسئله بین الافغاني مسله بلل کېږي خو معلومه نه شوه چې اډوارډز په څه ډول او دکومو لاملونو له مخې اسامه او الظواهري هم په دې موضوع کې ورګډ کړل.

کرزي ددې په خلاف پخپلوخبرو کې وویل چې افغان دولت چمتو دی ،چې د طالبانو او ددولت د مخالفینو دمشرانو په ګډون لکه ملا محمدعمر او ګلبدین حکمتیار سره، که چېرې په افغانستان کې دسولې دټینګښت غوښتونکي وي، خبرې اترې وکړي

له بلې خوا دتلې په ۷مه په اسلام اباد کې دامریکا دمتحده ایالتونو سفیرې این ډبلیو پیټرسن، د پاکستان د مذهبي ګوندونو داتحاد او ددې هېواد په ولسي جرګه کې داپوزیسیون له مشر مولینا فضل الرحمن سره د لیدنې پر مهال وویل چې هېواد یې له افغانستان څخه ژر تر ژره وتل غواړي.

سفیرې ویلي دي چې امریکا په افغانستان کې تلپاتې سوله او ټیکاو غواړي او په پام کې نه لري چې په دې هېواد کې د ډېرې مودې له پاره پاتې شي، بلکې هڅه کوي چې ژر تر ژره له افغانستان څخه خپل سرتېري او ځواکونه وباسي.

د نومورې په وینا، د ناټو ځواکونه هم تر اوږدې مودې پورې په افغانستان کې پاتې کېدل نه غواړي.

هغې زیاته کړه چې د پاکستان په قبایلي سیمو او افغانستان کې د ترهګرۍ د ختمولو یواځینی لاره جنګ نه ده، بلکې د خبرو اترو او مذاکرو له لارې ستونزې اوارېږي.

له دې سره جوخت امریکایي ځواکونه په ختیځ کې یو شمېر داسې پوسټرونه ویشلي دي چې پکې ددولسو طالب مشرانو دنیولو او یا دهغوی په اړه

> له بلې خوا دتلې په ۷مه په اسلام اباد کې دامریکا دمتحده ایالتونو سفیرې این ډبلیو پیټرسن، د پاکستان د مذهبي ګوندونو داتحاد او ددې هېواد په ولسي جرګه کې داپوزیسیون له مشر مولینا فضل الرحمن سره د لیدنې پر مهال وویل چې هېواد یې له افغانستان څخه ژر تر ژره وتل غواړي.
>
> سفیرې ویلي دي چې امریکا په افغانستان کې تلپاتې سوله او ټیکاو غواړي او په پام کې نه لري چې په دې هېواد کې د ډېرې مودې له پاره پاتې شي، بلکې هڅه کوي چې ژر تر ژره له افغانستان څخه خپل سرتېري او ځواکونه وباسي.
>
> د نومورې په وینا، د ناټو ځواکونه هم تر اوږدې مودې پورې په افغانستان کې پاتې کېدل نه غواړي.

دموثقو معلوماتو دورکولو پر سر یې یو شمېر جایزې اعلان کړې دي چې لوړه یې تر دوه لکه امریکایي ډالره زیاته ده

۳ مخ

رمضان ماه خیر و برکت

فضایل ماه مبارک رمضان

ماه رمضان با همه فضایل و خیر و برکت و رحمت و مغفرت و منزلت خویش؛ ظرفی است برای مظروف؛ جهدی است برای مجهود؛ و قدری است برای مقدور؛ یعنی شراقت و کرامت و عظمتی که برای این ماه گفته شده و افضل از تمامی شهور دانسته شده است، بخاطر تعاملات آسمانی، الهی، روحی، روانی، انسانی، اجتماعی، عبادی و سیاسی است که در طی این ماه در ارتباط میان خالق و مخلوق صورت گرفته و در تغییر سرنوشت انسان و جهان، نقش زنده و سازنده یی ادا نموده و ماه رمضان را بر سایر ماه های سال، فراز و امتیاز بخشیده است بدون شک ماه رمضان؛ ماه برکت و رحمت و مغفرت پرودگار رحیم و رحمان و عالمیان است. در فضیلت و منزلت آن، همین بس که ماه نزول قرآن بوده و در بطن خویش حامل شب شریف و عزیز قدر می باشد؛ خداوند بزرگ در قرآن کریم در تعریف این ماه مبارک فرموده اند: (رمضان، ماهی است که قرآن در آن نازل شده؛ قرآنی که رهنمای مردم و چراغ هدایت و جدا کنندهٔ حق از باطل است. از رسول گرامی اسلام حضرت محمد مصطفی(ص)، به کرار روایت شده است که آن بزرگوار در روزهای آخر ماه شعبان، به تجلیل از ماه مبارک رمضان می فرمود: (سبحان الله، ببینید به استقبال چه چیز مبارکی می روید و چه چیز مبارکی به شما رو آورده است) و می گفت: (مردم، ماه خدا همراه باپرکت و رحمت و مغفرت به استقبال شما آمده است، و آن ماهی است که به ضیافت پرودگار شرفیاب شده اید دراین ماه، نفس های تان تسبیح، خواب تان عبادت، اعمال تان قبول و دعای تان مستجاب است؛ شقی و بدبخت کسی است که در این ماه بزرگ، از عفو خدا محروم گردد...) و علاوه می نمود: (مردم، ماه رمضان شما را در پوشش خود گرفته است؛ ماه مبارک، ماهی که در آن شب قدر است ؛ شبی که بهتر از هزارماه است) و یادآور می شد: (ماه رمضان به پیشواز شما آمده است؛ ماه مبارک؛ ماهی که خداوند روزه داری اش را بر شما واجب دانسته است.) و به نتایج و خصایص این ماه مبارک در تهذیب روح و تنزیه نفس از هوی و هوس، اشاره می کرد و می فرمود: (اگر فواید ماه رمضان را می دانستید؛ یقیناً فراوان ذکر و شکر خدا را بجا می آوردید.) و علاوه می فرمود: (اگر بنده می دانست آن فواید و خصایصی را که در ماه رمضان نهفته است؛ بی گمان دوست می داشت که تمام سال رمضان باشد.) و در شب اول ماه مبارک رمضان دعا می کرد و به آمدن آن، مباهات می نمود و مایهٔ کرامت می خواند و می گفت: (حمد و سپاس خدایی را که ما را به تو کرامت بخشید ای ماه مبارک!) پیغمبر خدا (ص) با شور و اشتیاق به امتش بشارت داد که: (زمانی که هلال رمضان می دمد، دروازه های جهنم بسته می شود.) و فرموده است: (مبادا رمضان نزد شما مانند دیگر ماه ها باشد؛ زیرا این ماه نزد خداوند نسبت به سایر ماه ها از حرمت و فضیلت بیشتری برخوردار است و مبادا ایام روزه داری شما در ماه رمضان، با ایام دیگر ماه ها که روزه دار نیستید، یکسان باشد.) فریادخواهی برسد، خداوند اورا از وحشت بزرگ روز قیامت آسوده میدارد؛ هرکس در این ماه به داد ستمدید رسد، خداوند در دنیا اورا برهمه دشمنانش یاری دهد و در روز محشر به هنگام حساب و کتاب به یاری اش برخیزد. یکی از امتیازات بزرگی که ماه رمضان را زینت داده و برای بنده گان خدا مشهور و محبوب نموده، "روزه" است؛ روزه یکی از واجبات بزرگ اسلامی و دینی است که در ماه مبارک رمضان بر مسلمانان از سوی خدا مقرر شده و از برکت و عظمت و منزلت خاصی برخوردار است و بعد از نماز، در تطهیر قلوب و تزکیهء نفوس آدمی، نقش اولیه و تعیین کننده یی را ایفا می کند و میزان اخلاص و تقوی و اطاعت و ایمان انسان مسلمان را در ادای فرایض و پیروی از اوامر پرودگار بزرگش نشان می دهد؛ آفریدگار جهان و انسان، روی حکمت عالیهء الهیه اش، در هماهنگی با ضرورت های روحیٔ و نفسانی انسانی و در همخوانی با آهنگ و فرهنگ فطری و فزیکی آدمی، مسلمانان را در سال یک ماه به روزه داری مکلف نموده و به سر رسانیدن این امر را به عنوان امتحان اخلاص شان، در برابر خالق شان، از آنان خواسته و با: (روزه برشما نوشته شد چنانکه بر کسانی قبل از شما نوشته شده بود؛ شاید شما پرهیزگارشوید)؛ واجب کرده است.پیامبراکرم(ص) نیز به ارتباط فضیلت روزه ماه رمضان در خطبهٔ معروف شعبانیه اش به پیشواز ماه رمضان، در ترغیب به روزه داری و بیان فلسفهء روزه به امتش سفارش نمود:" ... با گرسنگی و تشنگی در این ماه، به یاد گرسنگی و تشنگی قیامت بیفتید، به فقرا و مساکین کمک کنید، به بزرگترها احترام

بگذارید و به کوچکترها مهربان باشید. صلهٔ رحم نمایید. مواظب زبان تان باشید و چشم ها وگوشهای خود را از آنچه که دیدن و شنیدنش بر شما حلال نیست، حفظ کنید. به یتیمان مردم نیکی کنید تا دیگران هم به یتیمان شما نیکی کنند و نسبت به گناهان خود توبه نمایید و هنگام نمازها، دستهارا برای دعا به درگاه خدا با میل و رغبت بلند کنید. هرکس در این ماه، برمن زیاد صلوات بفرستد، خداوند میزان اعمالش را در روزی که میزان ها سبک است، سنگین می نماید. هرکس نماز را در این ماه بامیل و رغبت بخواند، خداوند برأت از آتش را برای او مینویسد و می گفت در شب معراج به من از سوی خدا خطاب شد: (ای احمد! هیچ عبادتی نزد من محبوب تر از خاموشی وروزه نیست.) و از صواب و پاداش اخروی روزه در پیشگاه پرودگار یادآور می‌شد: (برای خداوند، فرشتگانی است که وظیفهء آنان استغفار نمودن برای روزه داران در هر روز از ماه رمضان تا پایان این ماه است؛ و در هرشب هنگام افطار به روزه داران بشارت می دهند که ای بنده گان خداوند! اندکی گرسنگی را چشیدید وبه زودی سیر می گردید؛ شما و آنچه در شماست-ازعمل خیر وعبادت خالص- مبارک گردیدید.) و مسلمانان را به روزه داری ماه رمضان تشویق می کرد و آنرا نشانهء شناسایی و تعظیم خدا از سوی انسان مؤمن می دانست و می فرمود: کسی که خدا را به درستی شناخته و به عظمت او پی برده باشد، دهان خود را از سخن و شکمش را از غذا باز داشته و رنج روزه داری و عبادت را بر خود هموار می کند. طلبی، شهوت مال و منال، شهوت موقعیت و مقام، و شهوت اشتهار و استبداد.... نگهداری و سعی کنی که متابعت هوای نفس اماره و اغوای ابلیس مکاره را نکنی. و سفارش فرموده است: (هروقت درحال روزه هستی، باید گوش و چشمت از حرام و تمامی اعضایت از بدی ها و زشتی ها روزه دار باشد. و آخر اینکه ناگفته پیداست این امر واجب پروردگار نیز مانند سایر اوامر و نواهی حکیمانه اش، علاوه بر مواهب ارزندهء معنوی و اخلاقی، خالی از فواید مثبت و سازندهء صحی و جسمی نبوده، درکنار اجر اخروی و صواب عقبوی، بیشتر بر جنبه های انسانی و اجتماعی زندگی دنیوی انسانها نیز استوار است و شکی نیست که "دنیا مزرعهء آخرت است" و پل عقبی از دنیا می گذرد و احکام الهی همه درین راستا منطقی و پذیرفتنی اند و انسان مسلمان با این دید و درک از احکام الهی، باید با اراده و آگاهی، از ماه رمضان استقبال کند و با روزه داری خالصانه این ماه، این مهمترین امر آفریده گار یکتا را عاشقانه به جا آرد و از برکات مادی و معنوی آن، بهره ببرد و از ابتلای معشوق ازلی و امتحان معبود آسمانی خویش، سرخرو و سرفراز بیرون برآید و در پایان، بر مصلای جشن پیروزی بر نفس امارهء ابلیسی، بازو به بازوی بنده گان صالح و خالص خدا بسپارد و با صلح و صفا در صف واحد وکلمهٔ واحد و قبلهٔ واحد، کبریایی و عظمت و جود و جبروت پروردگار واحد و یگانه، رستگار و پر افتخار، پیاپی تکبیر بگوید.

د دولت او طالبانو ترمنځ ....

دا ټول بدلونونه دیوې اونۍ دننه رامنځ ته شوي دي چې هر یو یې دبل په پرتله له جلا لیدلوري او تګلارې څخه سرچینه اخلي خو سړی داسې انګېرلای شي چې په ښکاره په افغانستان کې دسولې له پاره یوه هڅه ده خو دا چې تر شایي څه ډول او دچا لاسونه پټ دي تر اوسه پورې لا په ډاګه نه ده .له بلې خوا که سړی دطالبانو غبرګون ته راوګرځي نو هغوی هم تر اوسه پورې په خپله خبره ولاړ دي او هغه له افغانستان څخه دامریکایې ځواکونو وتل دي چې طالبان یې داصلي دښمنانو په نوم پېژني او وایي چې ددوی لومړی هدف بهرنیان دي

دطالبانولیدلوري ته په پام سره سړی هغه واټن ته ځیر کېدای شي چې دطالبانو او افغان دولت او په افغانستان کې دشته بهرنیو ځواکونو تر منځ موجود دی .

اوس پوښتنه داده چې له دومره ډېرو مختلفو او بېلابېلو تګلارو سره سره څنګه کېدای شي چې په افغانستان کې سوله راوستل شي ؟

ایا دطالبانو ، افغان دولت، بهرنیو ځواکونو په ځانګړې ډول دامریکایانو ارزښتونه اوس بدل شوي دي او هغسې نه دي لکه په ۲۰۰۱کال کې چې وو ؟

ایا امریکایان به له طالبانو سره دهغوی غوښتنې ومني او که به طالبان دې ته غاړه کېږدي چې یا له امریکایانو سره روغه جوړه وکړي او یا هم له افغان دولت سره چې تر اوسه پورې طالبانو یو نامشروع دولت بللی دی په واک کې به ګډ شي .

اوس که دا هر څه هم وشي کېدای شي په دې اړه باندې لا ډېرې پوښتنې بې ځوابه پاتې وي چې دتېروشپږو کلنو په ترڅ کې په هېواد کې وژنې ، زندانونه، بمبارونه او ددواړو اړخونو ترمنځ یا په مخامخ او یا هم دخپ او ترپ په جګړو کې دورانیو پرې به پر چاوي او ځواب به بې ځوک وایي .

په هر صورت افغانان لا اوس هم هیله لري چې ګوندې په هېواد کې یې سوله ټینګه شي خو دا چې ددولت او طالبانو تر منځ دسولې منکانیزم ځومره منطقي او ځومره دمنلو وړ ده تر اوسه پورې یې لا په اړه یوه نرۍ پوښتنې بې ځوابه پاتې دي .

په ۲۰۰۱کال کې دطالبانو له ماتې وروسته داوس په پرتله دامنیتي حالت په کابو کې راوستل دمنلو وړ خبره وه ځکه دطالبانو په لیکو کې په ښکاره ګډوډي لیدل کېده ان په خپل منځ کې هم یو په بل نه وو خبر او هغه دسولې نښه وخت و چې دراتلونکي له پاره یو ښه ګام اخیستل شوی وای او دسولې له پاره کار شوی وای خو ددې په خلاف هغه مهال له طالبانوسره له بل ډول چلند څخه کار واخیستل شو چې له پاره ډېرو کارپوهانو په وینا چې له دې ډلې څخه ډېرملګرو ملتونو لورې پورې چارواکي دي اوسنی ستونزې ټولې دهماغې تګلارې زېرنده دي چې ډېرې یې دشمال دپخوانۍ ټلوالې چې دامریکایې ځواکونو په زور یو ځل بیا په کابل واکمنه شوې وه دغوښتنو پایلی دي

خو اوس چې طالبانو دیوه منظم او ځواکمن غورځنګ په توګه ددولت واک ننګوي ایا اوس به طالبان دې ته غاړه کېږدي چې له خپلو ټولو لاسته راوړنو څخه لاس په سر شي او له دولت سره خبرې وکړي په داسې حال کې چې دخپل سقوط پر مهال یې له دولت څخه خورا بدې ورځې لیدلې دي .

هغه مهال ددې په ځای چې سولې ته کار وشي یا هغه پربکړه چې شپږ کاله وروسته یې نړۍ معقوله بولي هغه مهال کار وربانديې شوی وای ایا اوسنی ستونزې به بیا هم راټوکېدلې وې او که به مسئله یوې خواته شوې وای

ددې متل له مخې چې کب هر وخت له اوبو څخه را وباسي بیا هم تازه دی نو دسولې له پاره اوس هم ناوخته نه دی او کېدای شي چې ددواړو لوریو تر منځ سوله ټینګه شي خو شرط به په کې داوي چې دواړه لورې به خپل یو شمېر ارزښتونه له پامه غورځوي او بیا به یو له بل سره خبرې کوي او ددې په خلاف زه فکر نه کوم چې په خبرو اترو کې دکومې بریالۍ پایلې شاهدان و اوسو .

روزنامه ملی اراده
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خود شان مربوط است

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۳) افغانی
سالانه: ۱۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۶۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۲۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۲۰ دالر امریکایی

روزنامهٔ ملی اراده
مرکز نشراتی افغان
موسس و صاحب امتیاز:
حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: فضل الرحمن اوریا
موبایل :99 83 20 0798
معاون: خادم احمد
موبایل: 05 62 59 0700
مهتمم : استاد پوهنیار جاویده احمدی
ادیتور پشتو: سهراب دیدار
موبایل :0700222726

خبرنگاران :
سیدالرحمن سالار – 8507 440 077
علم جان پتمل – 0799412943
کمپوز: برشکی حنیفی
دیزاین: محمدجمیل احمد و انجنیرمحمدجمیل "امیری"
مسوول توزیع و بازار یابی : عبدالسمیع
موبایل : 84 43 24 0700
آدرس : دهمزنگ، عقب بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل ادرس : Daily.erada@yahoo.com
پست بکس : 304

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Fazal Rahman Oriya
Mobile: 0798208399
Collector: Jawida Ahmadi
Pashto Editor: Suhrab Dedar
Journalists: S.salar & Alam Jan patmal
Mobile: 077 44 08 507
Composer: Breshkay Hanifi
Designer: M.Jamil Ahmad & Eng,Moh Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: Daily.erada@yahoo.com
Post box: 304

دواړه لوري دهرنيانو ....

افغانستان له بل هر وخت اوس د هر افغان خواخوږی ته اړتيا لري ، نړدې دېرش کاله جګړې هېواد خپلې ، اوس هم دتېر په څېر جګړې روانې دي، په يو او بل نوم هېوادوال وژل کېږي، هېواد ورانېږي اوهېڅوک پرې رحم نه کوي. بهرنيان خو په خپلو ملي ګټو پسې راغلي، هرڅه چې غواړي تر سره کوي يې، زمونږ سياستوال هم په خپلو شخصي ګټو بوخت دي. د قدرت ليونيان بيا هم په خپل زين سپاره دي او له واکمنۍ په کم څه نه راضي کېږي، هغوی چې پرون يې د پخواني شوروي د يرغلګرو په ټانکونو د ګلونو ګډې کېښودې، که پرونيو مجاهدينو دقدرت په سر جګړې کولې او د مسکو په غېږ کې ورلوېدل او نن د قدرت په سر امريکايانو ته وايي چې په دې وړو او کوچنيو بمونو افغانان ډېر نشی وژلای، بم های کلان اورده شود ، نه له خپلو خلکو شرم کوي او نه هم له ځانه شرم کوي ، پرون يې دخلکو په سرونو کې (۳) مېخونه ټکول ، پرون يې د تلويزيون له غړه د دارلامان ښکلې مانۍ په توپونو غلبېل ، غلبېل کوله . خو نن د ملت په استازيتوب په پارلمان کې ناست دي غواړي چې راتلونکې هم په خپله خوښه جوړه کړي.

زمونږ د ټولنې ادیب او ليکوال د ټولنې په وړاندې مسوولیت لري ترڅو له خبرو پرده پورته کړي او ټولنې ته نجات ورکړي ، په قومي او ګوندي تمايلاتو پسې لاړ نه شي ، ديوه زمه وار انسان په توګه سم خلك او ناسم خلك سره تفکيك او ښکاره کړي ، نظام چلول او واکمني يو امانت دی ، دا امانت بايد هغه چاته وسپاري چې خيانت په کې ونه کړي ، پدې نړدې دېرشو کلونو کې هرې ډلې ته چې نظام په لاس ورغلی، ملت يې وژلی ، شړلای ، کوريې ورته وران کړی، او بيت المال يې په خپلو ټوپکوالو ويشلی او دملت دارايي يې چور کړې ده، اوس هم ټوپك ورسره دی هرڅه په زور اخلي. ملګري ملتونه او امريکا مې وژني، خو اديب او ليکوال بايد په دې پوه شي چې هغوی د ټوپك په لرلو د (B52) په سيوري کې شپې ورځې سبا کوي. زمونږ د ټولنې معمار بايد ډار او ويره کې ونه لري. افغانستان د ټولو و رونړو قومونو ګډ کور دی او په ګډه يې په برخليك کې حق لري.

هېواد له نظام جوړونې او نظام لرلو پرته ژغورل کېدای نشي. نظام د ټولنې له همکاری او همغږۍ پرته ټينګېدای نشي. لکه څنګه چې اوس دواړو خواوو دخبرو اعلان کړی دی خو دا اعلانونه بايد افغاني شي ، يوه خوا د افغانستان دولت او بله خوا مخالفين. دولت دې يو کمسيون وټاکي چې د ټولنې مخورخلك په کې وي د طالبانو او حزب اسلامي پخواني مخالفين په کې نه وي ، سياسي پوهه ولري او له پرديو هېوادو نو سره اړيکې ونه لري ،ددې کميسيون مشري دې پخپله حامد کرزی په غاړه واخلي ، ترڅو مقابل لوری محسوس کړي چې واقعاً دولت روغه جوړه کوي ، زه باور لرم چې بين الافغاني جوړ جاړی رامنځ ته کېدای شي. که د بهرنيانو کوم اغيز ورباندې هم وي ، هغه اغيزته به تسليم نه شي.

دواړه لوري د بهرنيانو په اړه هم تصميم نيولای شي ، که له طالب سره القاعده ده، نو دکرزي له رژيم سره امريکا او ناټو ده ، داټول دخبرو په کولوسره حل کېدای شي، که کرزی صاحب وايي چې بهرنيان نشم ايستلای داځکه چې يو څوك چې د افغانستان اشغال په دماغ کې ولري ترڅوچې يې هغه خيالات ختم نه شي ، بهرنيان نه باسي ، داسمه خبره نه ده ، هېڅ بهرنۍ افغانستان اشغالوالای نشي ، دا د B52 لرونکی هېواد هم افغانستان نيولی نه شي، که افغانان په خپلو کې سره خبروته پرېښودل شي او يو بين الافغاني باور پيدا شي.

القاعده هم افغانستان نيولی نه شي ، پاکستان او ايران هم افغانستان ته په کره ستر ګه کتلای نه شي. زمونږ ستونزه داده چې مونږ اتفاق کړی

که له طالب سره القاعده ده، نو دکرزي له رژيم سره امريکا او ناټو ده ، داټول دخبرو په کولوسره حل کېدای شي، که کرزی صاحب وايي چې بهرنيان نشم ايستلای داځکه چې يو څوك چې د افغانستان اشغال په دماغ کې ولري ترڅوچې يې هغه خيالات ختم نه شي ، بهرنيان نه باسي ، داسمه خبره نه ده ، هېڅ بهرنۍ افغانستان اشغال کولای نشي ، دا د B52 لرونکی هېواد هم افغانستان نيولی نه شي،

هغه د عوامو په خبره دپاڼ او پرانګ ترمنځ دي اوس کله داټوپکوال له واکه لرې کوي په دوو جبهو کې راګډېږي ، د القاعده او مسکو ترمنځ محاصره کېږي ، که يې نه کوي نظام نه جوړېږي ، زمونږ ليکوال هم کله ، کله په ويره کې لوېږي ، فکر کوي که ددې پرونيو رهبر په خلاف څه وليکم ، ټوپکوال لري او پرې وبه چې اتفاق به نه کوو. که اتفاق وکړو چې بې اتفاقي به نه کوو دا زمينه برابره شوه او بهرنيانو افغان مجاهد ملت ته ددې اجازه ورکړه چې په خپلو کې سره يو اتفاق هم وکړي. بيا به افغانستان ازاد وي او په خپله خوښه به دپر ديو عسکرو له شتوالي پرته نظام جوړ ولای شو. او هر افغان به بيا ددې نظام ساتونکی وي.

يک سرباز انګليسی ....

قربانيان اين انفجار از جمله نيروی شامل در يک عمليات بزرگ نظامی در ولايت نا آرام هلمند بوده اند.

انفجار در حدود سی کيلومتری مرکز هوايی نيروهای ايتلاف در ولايت قندهار صورت گرفت.

وزارت دفاع انګلستان گفت که کشته و زخمی شدن اين سربازان باعث "تاسف عميق" آنان شده است.

دو روز پيش نيز انفجار يک بمب کنار جاده يی در مرکز ولايت ارزګان يک سرباز وابسته به ناتو را زخمی کرد.

شاهدان عينی به بی بی سی گفتند که در اين انفجار يک موتر مربوط به نيروهای آيساف از بين رفته است.

طالبان ظرف ماه های اخير حملات خود را در افغانستان افزايش داده اند.

مخالفې ډلې دې له دولت سره په سياسي بهيرکې ګډې شي

ودان فراهی

مونږ دهېواد دوروستيو سياسي بدلونونو په هکله د يوه سياسي کارپوه او د ۱۱۰هېوادونو د څوانانواو محصيلينو دټولنې له پخواني مشر ودان فراهي سره مرکه کړې . تاسو يې لوستلوته رابولو.

پ:- فراهي صيب ! تاسو د دولت او طالبانو دخبرو اترو څخه په شاتګ څنګه ارزوئ ؟

ځ:- زماپه اند نړيوالې ټولنې په لومړي سرکې ډېرې سترې سهوې وکړې او دوی ونه غوښتل چې طالبان يا د دولت نورې مخالفې ډلې له دولت سره په سياسي بهير کې ګډې شي او دوی په لوی لاس طالبان په يوه داسې دام کې راګيرکړل چې هغوی يې دې ته وهڅول ترڅو په يو پوځي تحريك باندې لاس پورې کړي.

له يوې خوا کرزی دسولې وړاندیز کوي له بلې خوا ناټو له دغه وړاندیز سره سم په هلمند کې پوځي عمليات پيلوي او دطالبانو په وړاندې جګړې کوي.

پ:- تاسې وويل ناټو نه غواړي چې له طالبانو سره روغه جوړه وکړي په داسې حال کې چې مخکې له مخکې دوی دسولې له پروسې نه خپل ملاتړ اعلان کړي و ؟

ځ:- ښايي له دغو بريدونو څخه به د دواړو لوريو کلکې موخې وې ، دناټوموخه داوه چې دسولې له دغه وړاندیز څخه طالبان متأثره کړي او د دوی په ليکو کې ګډوډي را منځته کړي او دطالبانو موخه داوه چې ځان دیوسياسي ځواك په توګه په نړيواله کچه مطرح کړي ، دوی چې کومې غوښتنې لرلې هغه به نړيوالو او افغان دولت ته دمنلو وړنه وي.

پ:- کله چې د ووسيالو خوا وو ترمنځ دسولې خبرې ناکامې شي نو د وينو تويولو بهير راځي ، ايا د دولت او طالبانو ترمنځ به جګړې ګرمې نه شي ؟

ځ:- طبيعي ده چې کله دسولې خبرې ناکامې شي او دحل له پاره بله لار نه وي جګړې به زور اخلي. په دغو جګړو کې به وينې تو ئېږي، کورونه به ورانېږي ، خلك به کډوته اړ کېږي داخو هرڅه زمونږ او ستاسو په مخ کې دي خو دواړه لوري بايد د دغو جګړو تاوانونه وسنجوي او په دې فکر وکړي چې اخر څو ك وژل کېږي ؟ که طالب مري هم زمونږ ورور دی، زمونږ سړي دي او که پوليس يا ملي اردو مري، هغه هم افغانان دي ، کورونه لري، مينډې او مېرمنې لر.

گزارشگر:سالار

د حزب اسلامی پخوانی قوماندان و وژل شو

د حزب اسلامي ګوند يو پخواني قوماندان ټکرپرون سهار په خوست ښار کې دنامعلومو کسانو له خوا د ټوپک په ډزو ووژل شو.

د خوست دامنيه قومندانی مطبوعاتي ويانډ رسنيوته د قوماندان ټکر د وژل کېدو پخلی کړي او ويلې يې دي چې له ده سره د هغه تره هم په پېښه کې ټپی شوی دی، نومورې دا پېښه سياسي وبلله او وې ويل چې نومورې مخکې کومه شخصي دښمني نه درلوده. په خوست ښار کې قوماندان ټکر په داسې حال کې وژل کېږي چې تېره ورځ دملي امنيت يو مامور هم نامعلومو کسانو وژلی و.

حاميان خارجی طالبان افزايش ....

اين اظهارات در حالی صورت می گيرد که سطح حمله های شورشيان وابسته به طالبان دز افغانستان شدت بيشتری کسب کرده است.

دو حملهٔ انتحاری در کابل که در فاصلهٔ دو روز صورت گرفت، بيش از چهل کشته و به همين تعداد زخمی برجا گذاشت.

'اسلحهٔ پيشرفته'

به دنبال اين نا امنی ها، مجلس ولسی جرگه وزرای دفاع، داخله و رييس امنيت ملی را فراخواند.

اعضای مجلس ولسی جرگه حدود سه ساعت پشت درهای بسته با اين مقام ها در مورد وضعيت امنيتی کشور بحث کردند.

جنرال عبدالرحيم وردک، وزير دفاع حمايت های خارجی به جنگجويان در اين کشور و "ظرفيت پايين" کاری در ارگانهای امنيتی افغانستان را دلايل عمدهٔ افزايش نا امنی ها درکشور خواند.

آقای وردک بدون اينکه از کشور مشخصی نام بگيرد گفت که بعضی کشورها، به حاميان شورشيان در افغانستان پيوسته و تجهيزات جديد به آنان می فرستند.